د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د لوړو زده کړو وزارت
د خصوصي پوهنتونونو ریاست

سلام پوهنتون
د شرعیاتو او قانون پوهنځی
د تفسیر او حدیث د ماسترۍ پروګرام

موضوع:

# «په قرآن کریم کې اولوالعزم پیغمبران»

د ماسترۍ تیزس

محصل: اسلام الله (مسلم)
لارښود استاد: دوکتور فصیح الله (عبدالباقي)

کال:

١٣٩٧ هـ ش

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د لوړو زده کړو وزارت

سلام پوهنتون

د شرعیاتو او قانون پوهنځی

موضوع:

# (( په قرآن کریم کې اولوالعزم پیغمبران ))

د ماستري تیزس

محصل: اسلام الله (مسلم)

لارښود استاد: دوکتور فصیح الله (عبدالباقي)

کال: ۱۳۹۷ هـ ش

بسم الله الرحمن الرحیم

# سلام پوهنتون

## د شرعیات اوقانون پوهنځی

### د تفسیر او حدیث دیپارتمنټ

### د ماستری بورډ

---

# تـــصـــدیـــق نـــــامـــــه

ښاغلی اسلام الله (مسلم) د نصر الله خان زوی د Sh-mst-96-291 :ID نمبر لرونکی، د تفسیر او حدیث د دریمې دورې محصل د ماستری مرحلې رساله چې عنوان یې:په قرآن کریم کې اولوالعزم پیغمبران دی،د پنجشنبې ورخ په ١٣٩٨/١٢/١٥هـ ل نېټه یې په بریالیتوب سره دفاع کړه او د حکم پلاوي د ارزونې پر اساس د 75 (نمرو په عدد) پنځه اویا (نمرو په حروفو) مستحق وګرځید، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتې بریا غوښتونکي یو.

حکم پلاوی:

| شماره | داستاذ نوم | عضویت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | استاذ شکر الله مخلص | دحکم پلاوي عضو | |
| ۲ | دکتور محمد اسماعیل احدي | د حکم پلاوي عضو | |
| ۳ | دکتور فصیح الله عبد الباقي | لاربنود او دحکم پلاوي مشر | |

دماستری د بورډ آمر............................ علمی مرستیال ............................

**لنډيز**

اولو العزم پيغمبران د پيغمبرانو هغه ډله ده، کوم چې الله جل جلاله دوی د صبر او عزم د خاوندانو په نوم سره ياد کړي دي او د سورت الاحقاف په ۳۵ آيت کې الله جل جلاله فرمايي: «فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُوْلُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ وَلاَ تَسْتَعْجِل لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوعَدُونَ لَمْ يَلْبَثُوا إِلاَّ سَاعَةً مِّن نَّهَارٍ بَلاَغٌ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلاَّ الْقَوْمُ الْفَاسِقُونَ»

ژباړه: نو (اې پيغمبره! صلی الله عليه وسلم) صبر وکړه لکه څرنګه چې د ټينګ عزم او هوډ خاوندو پيغمبرانو صبر کړی دی. او د دوی په باب (د عذاب غوښتلو) بيړه مه کوه، په کومه ورځ چې دوی هغه څه ويني چې ځينې ويرول کېږي، نو داسې به ورته ښکاره شي لکه چې په دنيا کې يې د ورځې له يوه ساعت څخه زياته استوګنه نه وې کړې. دا (قرآن) پند رسوونه ده نو آيا له نافرمانو کسانو څخه پرته بل څوک هلاک شي؟

د پورتني آيت تشريح د سورت الاحزاب په اووم آيات سره ښه روښانه کېږي لکه چې الله جل جلاله فرمايي: «وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَاقًا غَلِيظًا»

د څېړنې له پای ته رسيدو وروسته په يقيني توګه روښانه شوه چې دغه پيغمبران پنځه نفره دي چې عبارت دي له حضرت نوح، حضرت ابراهيم، حضرت موسی، حضرت عيسی او حضرت محمد عليهم السلام څخه کوم چې الله جل جلاله د سورت شوری په ۱۳ آيت کې هم ذکر کړي دي: « شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلاَ تَتَفَرَّقُوا فِيهِ»

لومړی: حضرت نوح عليه السلام: د اوږد عمر لرونکی پيغمبر دی، او تر ټولو زيات وخت يې خپل ګمراه قوم ته چې پنځوس کم زر کاله يې تبليغ وکړ او د اتياوو په شاوخوا کې نفرو پرې ايمان راوړ[1]، او قوم يې له زياتې سرکښۍ وروسته په الهي طوفان سره هلاک شو. د نوح عليه السلام نوم د قرآن کريم په مختلفو سورتونو او آيتونو کې راغلی دی چې په راتلونکو صفحو کې به روښانه شي.

دوهم: حضرت ابراهيم عليه السلام: له نوح عليه السلام وروسته لوی او د قوي عزم څښتن پيغمبر و چې په خليل الله[2] سره هم يادېږي، خپل بت پرست قوم ته چې د نمرود او د بتانو او نورو الهه و عبادت يې کاوو راولېږل شو، خو قوم يې په لوی اور کې واچاوو، ابراهيم عليه السلام د درې ګونو دينونو د اتباعو لپاره لوړ منزلت لري، دريو واړو دينونو يهوديت، مسيحيت او اسلام ته محترم دی، تل يې نوم په اکرام، عزت او دعا سره يادېږي، د يوه خدای عبادت او يووالي ته په

1 تفسير القرطبي ج ۹، ص ۳۵: په کښتۍ کې د نجات موندونکو شمېر ۷۹ نفر وو، چې د نوح عليه السلام په ګډون ۸۰ نفره کېږي او لکه څرنګه چې اتيا (۸۰) عدد ته په عربي کې ثمانين ويل کېږي نو دوی چې د موصل په کوم ځای کې کښته شوی وو هلته يې د ثمانين په نوم کلی اباد کړ.

2 سورت النساء: ۱۲۵ ايت: وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِّمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لله وَهُوَ مُحْسِنٌ واتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَاتَّخَذَ اللّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلاً.

دعوت کې يې ډېر جهادونه کړي. د حضرت ابراهيم عليه السلام نوم د قرآن کريم په مختلفو سورتونو او آيتونو کې راغلی او هم يو پوره سورت دده په نوم سره نازل شو دی.

درېيم: حضرت موسی عليه السلام: هغه د ځمکې د مخ تر ټولو ظالم انسان فرعون ته رالېږل شوی وو، الله جل جلاله په داسې حال کې موسی عليه السلام پيداکړ، چې په دنيا کې ډېر لوی سرکښ؛ فرعون په واک وو چې په طغيان او تيري سره خورا مشهور وو تر داسي بريده چې د خپل وزير يې امر تر څو يوه دنگه ماڼۍ جوړه کړي او دی (فرعون) پرې د موسی عليه السلام خدای ووينې[3]. د خپل قوم د هدآيت په موخه يې لومړی لس صحيفې[4] او بيا وروسته لومړی اسماني کتاب تورات ورکړ.د حضرت موسی عليه السلام يادونه د قرآن کريم په مختلفو سورتونو او آيتونو کې راغلی خو کوم خاص سورت د موسی عليه السلام په نوم نه دی نازل شوی.

څلورم: حضرت عيسی – عليه السلام : لوی رب په خپل کامل قدرت بې پلاره د بې بې مريمې له بطنه پيدا کړ، په کم عمر ۳۰ کلنۍ کې نبوت ته ورسيدو، خو خپل قوم يې ددې لپاره چې خپل پيغمبر (عيسی عليه السلام) ووژني خپل ملگری وواژه او عيسی عليه السلام لوی رب جل جلاله په خپل فضل ترې وساته او اسمان ته يې پورته کړ. په قرآن کريم کې د حضرت عيسي عليه السلام «عيسی» لفظ د قرآن کريم په مختلفو سورتونو او آيتونو کې ذکر شوی دی او د عيسي عليه السلام نوم د المسيح او ابن مريم په نوم سره هم د قرآن کريم په ځينو سورتونو کې راغلی دی.

وروستی اولو العزم پيغمبر حضرت محمد – صلی الله عليه وسلم دی، هغه يتيم چې په صادق او امين مشهور وو، خلکو به خپل امانتونه ورسره اېښودل خو کله چې همدغه قوم ته د هدايت بلنه ورکړه هغو مختلف نومونه پرې کېښودل؛ ساحر، دروغجن، ليونی او نور، بيا ترې مهاجر شو خپلو انصارو وروڼو ته ورغی له خپل قوم سره يې لويې جگړې وکړې تر دې چې خپل مبارک غاښونه يې شهيدان شول، د ۲۳ کلني نبوت په دوران کې يې د اسلام مبارک دين د نړۍ په مختلفو قومونو ومانه او هغوی يې د اسلام دايرې ته داخل کړل.

د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم يادونه که څه هم په قرآن کريم په يوازې څان (محمد) څلور ځايه او د (احمد) په نوم يو ځای ياد شوی دی.

**مننليک**

له هر څه وړاندې د خپل رب جل جلاله شکر ادا کوم چې ماته يې ددې رسالې د ليکلو توفيق را په برخه کړ.

---

3 سورت القصص: ۳۸ ايت: وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَا أَيُّهَا الْمَلأُ مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَهٍ غَيْرِي فَأَوْقِدْ لِي يَا هَامَانُ عَلَى الطِّينِ فَاجْعَل لِّي صَرْحًا لَّعَلِّي أَطَّلِعُ إِلَى إِلَهِ مُوسَى وَإِنِّي لأَظُنُّهُ مِنَ الْكَاذِبِينَ

4 الدر المنثور: ج ۸، ص ۴۸۹

په دوم قدم کې د سلام پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي محترم رئیس صاحب، د تفسیر او حدیث څانګې له آمر او قدرمنو استادانو او د ماستري بورد محترمو غړیو څخه، د زړه له تله منـــنه کوم چې د خپل خواږه ژوند یوه لویه برخه یې د شرعـــي علومو د خدمت او د ګران هیواد د راتلونکي لپاره د لوړو کدرونو د روزلو لپاره وقف کړېده، په ځانګړې توګه د خپل لارښود څخه د زړه له تله مننداوی یم، چې له خپلو مصروفیتونو او بوختیاوو سره سره یې، زما د رسالې په لیکلو کې خپلې لارښوونې او بې سارې همکارۍ نه دي دریغ کړې، چې د همدې همکاریو له برکته یې زما د تحصیلي دورې رساله بشپړه شوه، د لوی الله ﷻ له دربار څخه یې د تل لپاره موفق او سر لوړی غواړم.

په درنښت

# د مطالبو لړلیک

## سریزه


لومړی مطلب: د ځیرنې موخې .......... Error! Bookmark not defined.
دوهم مطلب: د ځیرنې ضرورت او اهمیت .......... Error! Bookmark not defined.
درېیم مطلب: د ځیرنې شالید .......... Error! Bookmark not defined.
څلورم مطلب: د ځیرنې پوښتنې .......... Error! Bookmark not defined.
پنځم مطلب: د ځیرنې میتود .......... Error! Bookmark not defined.


## لومړی فصل


**د اولوالعزم او پیغمبر کلمو مفهوم .......... Error! Bookmark not defined.**

تمهید .......... Error! Bookmark not defined.
لومړی مبحث: د اولوالعزم مفهوم .......... Error! Bookmark not defined.
دوهم مبحث: د پیغمبر مفهوم .......... Error! Bookmark not defined.
درېیم مبحث: د رسول او نبي تر منځ فرق .......... Error! Bookmark not defined.


## دوهم فصل


**حضرت نوح علیه السلام .......... Error! Bookmark not defined.**

تمهید .......... Error! Bookmark not defined.
لومړی مبحث: تفصیلي پېژندنه .......... Error! Bookmark not defined.
دوهم مبحث: په پیغمبري مبعوث کېدل او د دعوت پیل .......... Error! Bookmark not defined.
درېیم مبحث: له قوم سره مناقشې .......... Error! Bookmark not defined.
څلورم مبحث: کتاب او معجزې .......... Error! Bookmark not defined.
پنځم مبحث: وفات .......... Error! Bookmark not defined.


## درېیم فصل


**حضرت ابراهیم علیه السلام .......... Error! Bookmark not defined.**

تمهید .......... Error! Bookmark not defined.
لومړی مبحث: تفصیلي پېژندنه .......... Error! Bookmark not defined.
دوهم مبحث: په پیغمبري مبعوث کېدل او د دعوت پیل .......... Error! Bookmark not defined.
درېیم مبحث: له قوم سره مناقشې .......... Error! Bookmark not defined.
څلورم مبحث: کتاب او معجزې .......... Error! Bookmark not defined.
پنځم مبحث: وفات .......... Error! Bookmark not defined.


## څلورم فصل


**حضرت موسیٰ علیه السلام .......... Error! Bookmark not defined.**

تمهید .......... Error! Bookmark not defined.
لومړی مبحث: تفصیلي پېژندنه .......... Error! Bookmark not defined.
دوهم مبحث: په پیغمبري مبعوث کېدل او د دعوت پیل .......... Error! Bookmark not defined.
درېیم مبحث: له قوم سره مناقشې .......... Error! Bookmark not defined.
څلورم مبحث: کتاب او معجزې .......... Error! Bookmark not defined.

لومړی مطلب: تورات ........ Error! Bookmark not defined.
پنځم مبحث: وفات ........ Error! Bookmark not defined.

## پنځم فصل

**حضرت عیسی علیه السلام** ........ Error! Bookmark not defined.

تمهید ........ Error! Bookmark not defined.
لومړی مبحث: تفصیلي پېژندنه ........ Error! Bookmark not defined.
دوهم مبحث: په پیغمبري مبعوث کېدل او د دعوت پیل ........ Error! Bookmark not defined.
درېیم مبحث: له قوم سره مناقشې ........ Error! Bookmark not defined.
څلورم مبحث: کتاب او معجزې ........ Error! Bookmark not defined.
پنځم مبحث: وفات؛ د ژوند پای ........ Error! Bookmark not defined.

## شپږم فصل

**حضرت محمد صلي علیه وسلم** ........ Error! Bookmark not defined.

خخ ........ Error! Bookmark not defined.
لومړی مبحث: تفصیلي پېژندنه ........ Error! Bookmark not defined.
دوهم مبحث: په پیغمبري مبعوث کېدل او د دعوت پیل ........ Error! Bookmark not defined.
درېیم مبحث: له قوم سره مناقشې ........ Error! Bookmark not defined.
څلورم مبحث: کتاب او معجزې ........ Error! Bookmark not defined.
پنځم مبحث: وفات ........ Error! Bookmark not defined.

**نتیجه ګیري** ........ 10

**وړاندیزونه** ........ 13

## فهارست

الف: د قرآني ایتونو فهرست ........ Error! Bookmark not defined.
ب: د نبوي حدیثونو فهرست ........ Error! Bookmark not defined.
ج: د اعلامو فهرست ........ Error! Bookmark not defined.
د. د کتابونو فهرست ........ Error! Bookmark not defined.

**ABSTRACT** ........ Error! Bookmark not defined.

# نتيجه گيري

د پورتني، ليکنې څخه دې نتيجې ته رسېږو چې اولو العزمه پيغمبران د پيغمبرانو له هغې ډلې څخه عبارت دي کوم چې الله جل جلاله دوی د صبر او عزم د خاوندانو په نوم سره يادې کړي دي لکه چې د سورت الاحقاف په ۳۵ آيت کې الله جل جلاله فرمايي:س

« فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُوْلُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ وَلاَ تَسْتَعْجِل لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوعَدُونَ لَمْ يَلْبَثُوا إِلاَّ سَاعَةً مِّن نَّهَارٍ بَلاَغٌ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلاَّ الْقَوْمُ الْفَاسِقُونَ»

مفسرينو د پورتني آيت تشريخ بيرته د سورت الاحزاب په اووم ايات سره کړې لکه چې الله جل جلاله فرمايي:

«وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَاقًا غَلِيظًا»

او موږ له څېړنې وروسته دې پايلې ته ورسيدو چې دغه پيغمبران پنځه نفره دي چې عبارت دي له حضرت نوح، حضرت ابراهيم، حضرت موسى، حضرت عيسى او حضرت محمد عليهم السلام څخه کوم چې الله جل جلاله د سورت شورای په ۱۳ آيت کې هم ذکر کړې دي:

« شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلاَ تَتَفَرَّقُوا فِيهِ»

د ترتيب په لحاظ لومړی اولو العزمه پيغمبر نوح عليه السلام : يو د اوږد عمر لرونکی پيغمبر دی، او تر ټولو زيات وخت يې خپل گمراه قوم ته چې پنځوس کم زر کاله يې تبليغ وکړ خو يوازې اتيا نفرو پرې ايمان راوړ، که لږ څه حساب ورته وکړو او اتيا نفره په ۹۵۰ کلونو تبليغ وويشو پوهېږو چې نوح – عليه السلام – څومره صبر کړی او څومره ستونزې گاللې دي، خو دا چې قوم يې نه اصلاح کېدونکی قوم وو، نو په اخر کې نوح عليه السلام خپل رب ته د عاجزي سوال وکړ چور مغلوب يم او ته مې له دې قومه انتقام واخله او له قهار ذات څخه يې دوی ته عذاب وغوښت او هغوی يې په طوفان سره هلاک کړل. خپله يې له مسلمان امت چې شمېر يې تر اتيا نفرو پورې رسيدو په کښتي ځان خوندي کړ او تر څلويښتو ورځو پورې پرې له پاسه او کښته د اوبو طوفان وو. د طوفان له ختمېدو وروسته يې کښتۍ د جودي په غره کښېنستله او په سلامتي سره ترې راکښته شول. له طوفان وروسته هم نوح عليه السلام ۴۵۰ کاله ژوندی وو. د نوح عليه السلام نوم ۴۳ ځلې د قرآن کريم په آيتونو کې ذکر شوی او يو مکمل سورت هم په ۲۹ سيپاره کې د نوح په نوم سره دی.

حضرت ابراهيم عليه السلام : د آذر زوی له نوح عليه السلام وروسته لوی او قوي عزم څښتن پيغمبر وو چې په خليل الرحمن سره هم يادېږي، خپل بت پرست قوم ته چې د نمرود او د بتانو او نور الهه و عبادت يې کاوو راولېږل شو، خو قوم يې په لوی اور کې واچاوو، خو صبر يې وکړ او الله جل جلاله هغه ورته په امن ځای (شنه چمن بدل کړ) ، الله جل

جلاله د بې اولادي په امتحان کې واچاوو، خو چې صبر يې وکړ دوه اولادونه يې ورکړل خو بېرته کله چې دی او مېرمنې يې پرې خوشحاله شوې، دوهم امتحان يې پرې پيل کړ هغه دا چې خپل نازولی زوی قرباني کړه، بيا يې په امتحان صبر وکړ او د امتحان صحنه يې الله جل جلاله د جنت په يوه پسه ور فيصليه کړه، له دې فيصلې وروسته يې د گرانې مېرمنې او نازولي زوي په فراق او مهاجرت امتحان کړ خو بيا يې هم صبر او عزم وښودل. د خدای په امر يې د خپل زوی اسماعيل عليه السلام په مرسته د کعبې ودانۍ جوړه او خلک يې د خدای جل جلاله د کور زيات ته راوبلل.

ابراهيم عليه السلام د درې گونو دينونو د اتباعو لپاره لوړ منزلت لري، دريو واړو دينونو يهوديت، مسيحيت او اسلام ته محترم دی، تل يې نوم په اکرام، عزت او دعا سره يادېږي، د يوه خدای عبادت او يووالي ته په دعوت کې يې ډېر جهادونه کړي. حضرت ابراهيم عليه السلام په قرآن کريم کې ٦٨ ځلې ذکر شوی دی او هم يو پوره سورت دده په نوم سره نازل شو دی.

حضرت موسی عليه السلام : هغه چې لوی رب د ځمکې د مخ تر ټولو ظالم انسان فرعون ته راولېږه، د هغه په کور کې لوی شو، هغه يې دعوت کړ خو هغو نه منله بيا يې ترې خپل قوم سبطيان( بنی اسرائيل) روان کړل خو ملعون فرعون پسې شو الله جل جلاله موسی – عليه السلام – ترې وساته او فرعون يې په قلزم بحيره کې غرق کړ. بيا د خپل قوم سره په لوی لوی ستونزو اخته وو، لکه د سامري ستونزه او نور.

الله جل جلاله په داسې حال کې موسی عليه السلام پيداکړ، چې په دنيا کې ډېر لوی سرکښ؛ فرعون په واک وو چې په طغيان او تيري سره خورا مشهور وو تر داسي بريده چې د الله جل جلاله سره د منازعې لپاره پورته شوی وو او د خدايۍ دعوه يې کړې وه او دا گومان يې کاوه چې زه معبود او اله يم. موسی عليه السلام ته لوی رب دوې لويې معجزې چې همسا او يد بيضاء وو ورکړې وې، ددې پرته يې اووه نورې معجزې هم ورکړې وې چې په ليکنه کې ذکر شوې دي. د خپل قوم د هدآيت په موخه يې لومړی لس صحيفي او بيا وروسته لومړی اسماني کتاب تورات ورکړ.

د حضرت موسی عليه السلام يادونه په قرآن کريم کې ١٣٤ ځله شوې ده د قرآن کريم کوم خاص سورت د موسی عليه السلام په نوم نه دی نازل شوی خو په ٣٤ بيلا بيلو سورتونو کې يې يادونه شوې ده چې له دې جملې يې يوازې ١٣ ځله په البقره سورت، ٢٠ ځله په الاعراف، ١٧ ځله په طه، ٩ ځله په الشعراء، ١٨ ځله په القصص او نورو بېلابيلو سورتونو کې ذکر شوی دی.

حضرت عيسی عليه السلام : لوی رب په خپل کامل قدرت بې پلاره د بې بې مريمي له بطنه پيدا کړ، لوی شو، تر نورو پيغمبرانو په کم عمر ٣٠ کلنۍ کې نبوت ته ورسيدو، خو خپل قوم يې د وژلو په قصد خپل ملگری وواژه او دی لوی رب جل جلاله په خپل فضل ترې وساته او اسمان ته يې پورته کړ. د قوم د هدآيت لپاره ورته الله جل جلاله انجيل ورکړ او له دې په

ځنګ کې يې لويې لويې معجزې لکه د پيس مرض جوړول، د مړو ژوندې کول او داسې نور ورکړي. د حضرت عيسي السلام له نوم سره په قرآن کريم هر ځای د هغه د مور مبارکې (بې بې مريم رضي اللّٰه عنها) نوم هم راغلی يوازې په څو ځايونو کې يې نوم يوازې راغلی.

په قرآن کريم کې د حضرت عيسي عليه السلام «عيسی» لفظ ۲۵ ځلې ذکر شوی دی او د عيسي عليه السلام نوم د المسيح او ابن مريم په نوم سره هم د قرآن کريم په مختلفو سورتونو کې راغلی دی، حضرت عيسی عليه السلام چې اوس مهال ژوندی دی په اخره زمانه کې قيامت ته نږدې به له اسمانه را کښته شي او د محمدي شريعت په تابع داري به د مسلمانانو مشر وي.

حضرت محمد صلي اللّٰه عليه وسلم : هغه يتيم چې په صادق او امين مشهور وو، خلکو به خپل امانتونه ورسره ايښودل خو کله چې همدغه قوم ته د هدآيت بلنه ورکړه هغو مختلف نومونه پرې کېښودل؛ ساحر، دروغجن، ليونی او نور، بيا ترې مهاجر شو خپلو انصارو وروڼو ته ورغی له خپل قوم سره يې لوی جګړې وکړې ترې دې چې خپل مبارک غاښونه يې شهيدان شول، د ۲۳ کلني نبوت په دوران کې يې تر يو لک او شل زره زيات وګړي د اسلام په مبارکه دايره کې شامل کړی.

د حضرت محمد صلي اللّٰه عليه وسلم مبارک يادونه که څه هم په قرآن کريم په يوازې ځان څلور ځايه او د احمد په نوم يو ځای ياد شوی دی چې په لاندې ډول دي:

سورت ال عمران ۱۴۴ آيت، سورت الاحزاب ۴۰ آيت، سورت محمد ۲ آيت، سورت الفتح ۲۹ آيت او د احمد په نوم چې کوم بشارت د حضرت عيسی عليه السلام لخوا راوړل شوی وو هغه په الصف سورت کې ٦ آيت کې او يو مکمل سورت هم د محمد په نوم په ۲٦ سيپاره کې دی چې ټول آيتونه يې ۳۸ دي او په دوهم آيت کې يې محمد لفظ ذکر شوی دی. حضرت محمد صلي اللّٰه عليه وسلم د ټولو پيغمبرانو خاتم او وروستی دی چې الهي وحی په ده سره پای ته ورسيده، اللّٰه جل جلاله ورته لويې لويې معجزې لکه قرآن کريم، شق القمر، اسراء او معراج او داسې نورې ورکړې وې.

## وړانديزونه

ددې ليکنې په جريان کې ټول هغه څه چې ماته اړين وبرېښيدل او يا يې ما نه شتون حس کړ هغه مې دلته د وړانديزونو تر عنوان لاندې راوړي، ممکن يو لوستی کس، يو ليکوال، د لوړو زده کړو وزارت، د پوهنې وزارت او يا هم نور فرهنګي او تعليمي ارګانونه دغو وړانديزونو ته د عمل جامه ور واغوندي:

* د عربي ژبې د لويو کتابونو، لکه صحاح سته، او نورو ژباړه پښتو ژبې ته يو خورا لازمي کار دی چې تر اوسه پورې په پښتو ژبه کې د هغو پوره ژباړې شتون نه لري.
* د محترمو مفسرينو لپاره، دغه وړانديز د يوه کشر ورور په صفت پرېږدم هغه دا چې په دومره لويه څېړنه او تفسير کې بايد د پښتو ژبې د ليکنې ټول اصول(په تېره بيا د يا ګانو ستونزه) مراعات شي، د بېلګې په توګه کابلي تفسير چې لله الحمد اوس بيا د سعودي عربستان د الفهد خپرندويه بنسټ له لوري په ښه کيفيت او املا سره چاپ شوی خو مخکنی چاپ يې هيڅ د لوستلو نه دی ځکه مطلب ترې نه اخېستل کېږي.
* د اسلام د مقدس دين، د ټولو پيغمبرانو، د اسلام د ستر پيغمبر حضرت محمد صلي الله عليه وسلم، صحابه کرامو او نورو مخکنيو علماوو په اړه عامه پوهاوی خورا لازمي دی، هغه که د کتابونو د خپرولو له لارې، د سيمنارونو يا ورکشاپونو له لارې او يا نورې لارې چارې وي.
* د ديني کتابونو د چاپ بهير خورا ټکنی شوی هيله ده خپرندويې ټولنې او ليکوال په تيره علماء ورته پاملرنه وکړي.

## د کتابونو فهرست


1. ابن اكثير الدمشقى، عمادالدين أبى الفداء اسماعيل عمر، **تفسير القرآن العظيم**، المحقق: سامي بن محمد السلامة، الناشر: دار طيبة سنة النشر: 1420 – 1999، رقم الطبعة:
2. ابن الأثير، مجد الدين أبو السعادات المبارک بن محمد الجزري (سنة النشر: ۱۳۹۹هـ ق)، **النهاية في غريب الحديث والأثر**، تحقيق: طاهر أحمد الزاوى محمود محمد الطناحي، الناشر: المكتبة العلمية – بيروت
3. ابن خلدون، ابو زيد عبدالرحمن بن محمد. (۷۳۲ – ۸۰۸)، **العِبر تاريخ ابن خلدون**، دوهم چاپ، په پنځه جلده کې، فارسي ژباړه. عبدالمحمد آيتی، تهران: پروهشگاه علوم انساني و مطالعات فرهنگی، (۱۳۸۳).
4. اشقر، عمر سليمان، (۱۴۰۱)**پيامبري و رسالت**، ژباړه د حرمينو فرهنگي کميټه، چاپ کويټ دار الاخلاص
5. البخاري، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة أبو عبدالله (194 256هـ ) ،**صحيح البخارى** (الجامع الصحيح المختصر)، بيروت، الطبعة الثالثة ، 1407.
6. الترمذي، محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، أبو عيسى (سنة النشر: ۱۹۹۸م)، **سنن الترمذي**، المحقق: بشار عواد معروف، الناشر: دار الغرب الإسلامي – بيروت.
7. الزمخشري، محمود بن عمر بن محمد(۴۶۷ ۵۳۸هـ )، چاپ کال (۱۴۰۷)، **تفسير الكشاف = تفسير الزمخشري**، څلور جلده، بېروت: دار الكتاب العربی.
8. الرازي، فخرالدين، (۵۴۴ ٦٠٦ هـ )، **التفسير الفخر الرازي مشهور په تفسير الكبير**، بېروت: دار الفکر، چاپ کال (۱۴۲۰).
9. القرطبی، ابو عبدالله محمد بن احمد الانصارى، (متوفى ٦٧١ هـ ). **تفسير القرطبي**، چاپ کال (۱۴۳۲)، ترکیه: موسسة الرساله.
10. الالوسی، ابی الثناء شهاب الدين (متوفى ۱۲۷۰ هـ )، **روح المعاني فى التفسير القران العظيم و السبع المثاني**. بيروت: الطبع الاولى (۱۴۱۵)
11. البغوى، ابو محمد الحسين بن مسعود، (۱۴۰۹)، **معالم التنزيل ( تفسير البغوى)**، بيروت: دار الطيبه.
12. جبير، عبدالغفار،(۲۰۱۲)، زما مناظره له يوه عيسوي راهب سره، کندهار: صديقي خپرندويه ټولنه.
13. الصابوني، محمد علي،( ۱۳۹۵)، **د نبوت او انبياء تاريخ.** د عبدالهادي حماد ژباړه، کندهار: صداقت خپرندويه ټولنه.

14. ديوبندی، حضرت شیخ الهند محمود الحسن، **تفسیر عثمانی المعروف به تفسیر کابلی**، نگارش شبیر احمد عثمانی دیوبندی، تحت نظر هیئتی از علماء جیّد افغانستان،تاج کتب خانه، قصه خوانی پشاور پاکستان، ب.ت.

15. اسلامي، احمد (۱۳۹۷)، **مقصود از تورات و انجیل در قرآن**، قم: دانشگاه اسلامی

16. ریان، عبدالله گل، (۱۳۹۱) **نبوي ژوند**، کندهار، صدیقي خپرندویه ټولنه.

17. السباعی، مصطفی، (١٣٨٦)، **نبوي سیرت درسونه، عبرتونه**، پښتو ژباړه سلطان محمود صلیاح، کابل: جمعیت اصلاح خپرندویه ټولنه،

18. سید رسول . ( ۱۳۹۰) **قصص القران.** کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه.

19. السیوطي، جلال الدین أبوبکر بن عبدالرحمن، (عام النشر: ؟)، حاشیة السیوطي علی النسائي. الشیباني، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل (سنة النشر: ١٤١٦هـ ق)، **مسند الإمام أحمد بن حنبل**، المحقق: أحمد محمد شاکر، الناشر: دار الحدیث – القاهرة، الطبعة: الأولی

20. صمد، نثار احمد، (ب، ت )، **د قرآن سره مرکه.** کابل: لر او بر سایټ.

21. صابوني، محمد علي، (ب، ت )، **پیغمبري و پیغمبران در قرآن کریم**، ژباړه ملازاده محمد. د عقیدې له سآیت څخه ډاونلوډ شوی.

22. طبري، ابی جعفر محمد ابن جریر. ( ۱۳۷۰). **تفسیر طبري**. کابل: المکتبة الطریق جاده میوند.

23. العثماني الحنفي المظهري، شیخ الهند محمد ثناء الله. **تفسیر مظهري**، المکمله الحقانیه محله جنګي پیښور پاکستان، جلد ۷

24. عثماني، مفتي محمد شفیع، (عام النشر: ؟)، **معارف القرآن**، پښتو مترجم: سیف الحنان، موسی زیی، الناشر: زیب آرټ پبلشرز، پشاور پاکستان.

25. عزیز، سلطان عزیز. ( ۱۳۷۷). **عزیز التفاسیر**. پېښور: رشیدیه کتابخانه.

26. عمید، حسن، **فرهنگ فارسی عمید**، ویراستار: عزیزالله علیزاده، ناشر: راه رشد، سال چاپ 1389

27. الغزالي، ابو حامد. (۱۳۹۳). **مکاشفة القلوب.** کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه.

28. فرید احمد،(۱۴۴۰)، **قصص النبیا**، کابل، جدید مکتبة رشیدیه،

29. قادوس، محمد (۲۰۱۷)، **قصص الانبیاء**، ژباړه، عبدالکریم راحل. ۱۴ دیسامبر/ د الازهر عمومي سایټ

30. مبارکپوري، عبدالرحمن. (۱۳۸۵). **الرحیق المختوم( سیرة النبي ).** پېښور: اصلاح افکار خپروندویه ټولنه.

31. محمد اسماعیل. ( ۱۳۸۸) **قصص الانبیاء.** صداقت خپرندویه ټولنه.

32. محمد عیسوي (۱۹۸۰)، **تفسیر ابی مسعود** ، الناشر: مرکز الملک فیصل للبحوث و الدراسات الاسلامیه.

33. مظهري، شیخ القاضي محمد ثناء اللّٰه. ( ۱۳٦٥). **تفسیر مظهري.** پېښور: المکتبة الحقانیه.

34. معین، محمد، **فرهنگ فارسی**، چاپ هفتم، تهران: سرایش،1382هـ ش.

35. مفتي محمد شفیع (۱۳۹۰)، **سیرت خاتم الانبیاء**، (ژباړن: مولوي نورالحق انور) میهن خپرندویه ټولنه.

36. ندوي، ابوالحسن علي، **خاتم النبین**، (ژباړن: حسبان اللّٰه متوکل)، اصلاح انلاین ټکی نیټ.

37. نظري، محمود. ( ۱۳۸٥) **قران او ننني ( معاصر) ساینس.**

38. نظري، محمود. ( ۱۳۸٥). **ساینسي معجزې په قرانکریم کې.**

39. هارون، عبدالسلام (۱۳۹۸)، **د ابن هشام مختصر نبوي سیرت** ژباړه لقمان حکیم حکمت. اسلامي لاربنود سایټ.

**40.** هاشمي، عبدالمنعیم، (۱۹۹۸)، **چشم اندازی به معجزات پیامبران از منظر قرآن** و **تاریخ**، ترجمه فارسی سید رضا اسعدي. گرفته شده از سآیت عقیده اهل سنت.

**41.** یحیی، هارون. ( ۱۳۸۷). **د قران کریم علمي اعجاز** ( ژباړه). ننگرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

**بخاطر دسترسی به متن کامل این تحقیق مراجعه شود به:**

**پوهنتون سلام، کتابخانهٔ مرکزی چهار راهی گل سرخ، سرک کلوله پشته**

**و یا هم به ایمیل آدرس ذیل تماس گرفته شود:**

**salamresearchcentre@salam.edu.af**